# بې‌شکه له تاسو څخه تر ټولو خوښ او د قيامت په ورځ زما) مجلس ته تر ټولو نږدې کسان هغه دي چې غوره اخلاق ولري

له جابر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: (بې‌شکه له تاسو څخه تر ټولو خوښ او د قيامت په ورځ زما مجلس ته تر ټولو نږدې کسان هغه دي چې غوره اخلاق ولري، او تر ټولو ناخوښ او زما مجلس نه تر ټولو لرې کسان د قيامت په ورځ: ثرثارون – ډېر خبرې او بې ځايه خبرې کوونکي (کړتو)، متشدقون – هغه کسان چې په تکلف او د وښکېو په حرکت سره خبرې کوي، ځان ښيي او متفيهقون – هغه کسان چې په غرور او تکبر سره خبرې کوي، صحابه کرامو وويل: اې د الله رسوله! موږ ثرثارون او متشدقون پېژنو، خو متفيهقون څوک دي؟نبي کريم ﷺ وفرمايل: متفيهقون يعني کبر کوونکي (هغوی چې په تکبر او غرور په ډکه خوله ويناوې کوي).

[صحيح دی] [الترمذي روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته خبر راکړی چې: په دنيا کې تر ټولو خوښ خلک د هغه لپاره هغو دي چې غوره اخلاق ولري او د قيامت په ورځ به هم همدوی د هغه مجلس ته تر ټولو نږدې وي. او هغه ته تر ټولو ناخوښ خلک هغه دي چې په دنيا کې بد اخلاق ولري، او د قيامت په ورځ به له هغه څخه تر ټولو لرې وي لکه: (الثرثارون) ډېرې خبرې کوونکي بې‌ځايه ژبه چلوونکي چې له حق څخه وځي، او (المتشدقون) په تکلف او فصاحت سره خبرې اوردوي او ځان ته اهميت ورکوي، پرته له دې چې احتياط او ځان وساتي، (المتفيهقون) صحابه کرامو وويل: ای د الله رسوله! ثرثارون او متشدقون خو مو وپېژندل، نو دا (المُتفيهقون) څوک دي؟ نبي ﷺ وفرمايل: دا کبرجن خلک دي، هغه کسان چې په خلکو ملنډې وهي او په ډکه خوله لوی لوی خبرې کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5802

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee